# د قاسم علي خان افريدي په شاعرۍ د قرآن اثرات

Faqir Muhammad Faqir*

**ABSTRACT:**

*Pashto classical poetry has accepted the impact of Quran and hadith in a large scale and big margin. Same is the case with Qasim Ali Khan Afridi (**1183** - **1225** Hijri, approximately). He seems to be a representative poet of roshanite school of thought. In addition he looks to be an Islamic scholar as well specially, on the basis of his poetry. In this research paper the impact of Quran on the poetry of the said poet is discussed. The comparison is made between Quranic verses and his relative poetry in this regard. This is completely a new aspect of his poetry as no one has written about it so far.*

د پښتو ژبې او ادب تاريخ د ابتدا نه د علم او عرفان، د مذهبي اصلاحي او اخلاقي علمونو خزانه ده. په هر دور کښې پښتنو کښې ډېر علمي او مذهبي عالمان پېدا شوي دي. په خصوصيت سره د تصوف لاړ خو د دغه قسمه موضوعاتو نه ډکه ده بلکې مقصد او غرض يې هم دا دے چې د اولس اصلاح وشي.

د پښتو ژبې هغه شاعران چې د شريعت د علم او تصوف د رموزو نه خبر وي، د هغوي په کلام کښې ارو مرو د قرآن او حديث خبرې وي. دغه د ټولو مذهبي او صوفيانو شاعرانو کار دے چې د هر قسمه نفساني خواهشونو د ترک کولو تبليغ او د الله د رضا د حصول د پاره د رياضت او مجاهدې کولو ترغيب ورکړي.

* Lecture Pakhtun Khawa Study Center Bacha Khan University Charsdda

که مونږ د تصوف ویږ تاریخ او تعریف په ځائے پرېږدو او صرف د پښتو تصوفي او مذهبي ادب ته ځیر شونو معلومه به شي چې ابتداء یي د روښاني مکتب نه کېږي.

روښاني ادب سره تړلي شاعران لکه ارزاني خوېشکي، مرزا خان انصاري، علي محمد مخلص، واصل روښاني، کریم داد روښاني او قادر داد وغېره مذهبي عالمان هم وو. د هغوي نه پس رحمان بابا عالم فاضل او صوفي شاعر وۀ. دغسې قاسم علي خان افریدے یو زیرک عالم، صوفي شاعر او کثیراللسان ادیب دے. په عربی، فارسی، پښتو او هندي ژبو یې عبور حاصل وۀ. دې نه علاوه نورې ژبې یې هم زده وې او په اووۀ ژبو پوهېدلو.

قاسم علي خان افریدے د الف خان کړوسے د نېک نام خان نمسے او د برُهان خان زوئے دے. په ۱۱۸۳ هـ مطابق ۱۷۶۹ء د هند فرخ آباد کښې زېږېدلے دے. د دوي د خاندان تعلق د دره آدم خېل د اخور کلي سره دے. الف خان د اخور ملک وو. او د قاسم علي خان افریدي د وېنا مطابق د پېښور نه تر کوهاټ یې حکم چلېدو.

غور نیکۀ مې ملکي کړه په وطن کښې
حکومت تر پېښور تر کوهاټ ها [1]

یا لکه چې خواب نامه کښې وایي:
غور نیکۀ مې په وطن کښې لوئے ملک وو
غور نیکۀ چې مې نیکۀ زما هالک وو [2]

د الف خان د مرګ نه پس یې نیکونو ته حالات دومره خراب شول چې د وطن نه په ۱۱۱۸هـ کښې په هجرت کولو مجبور شو. د دوي سره په اخور کښې د افریدو بل قوم باشخېل وو چې د رساله افریدي او پښتو دیوان داخلي شهادت

د دې خبرې څرګندونه کوي چې دغه قوم به صوبېدار ته د دهٔ د نیکونو خلاف قسم قسم شکایتونه کول:

پــه ســبب مکــر وفریــب د باشــخېلانو
بیــا نیکــهٔ زمــا وهنــد نیــوا هــدا ۳

دغه وجه وه چې دوي هند ته لاړل او بیا هم هلته مستقل پاتې شول او تر قاسم علي خان افریدي پورې د هغه د رساله افریدي مطابق بیا خپل کور کلي ته نهٔ دي راغلي.

قاسم علي خان افریدي د نوکرۍ په وجه مصروف ژوند تېر کړے دے خو بیا یې هم د قلم سره ملګرتیا نهٔ ده پرېښې او د نهه دېرشو (۳۹) کالو په عمر کښې یې شپږ کتابونه پښتو دیوان، اردو دیوان، خواب نامه، شفاعت افریدي، افریدي نامه او رساله افریدي لیکلي دي. د اردو دیوان یې د خیال بخاري صیب په زیار ۱۹۷۱ء کښې د پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټۍ نه چاپ شوے دے. د پښتو دیوان تدوین او تحقیق باندې راقم الحروف د ایم فِل ډګرۍ تر لاسه کړې ده او نور کتابو نه یې لا اوس هم د چاپ لارې ساري.

د پښتو دیوان یې د مذهبي او صوفیانه افکارو نه ډک دے او د خپلو مقدمینو ذکر شوو شاعرانو روایت یې برقرار ساتلے دے. قاسم علي خان افریدي هم ډېر ځایه د قرآن پاک نه براه راست استفاده کړې ده او چرته یې مفهوم بیان کړے دے. څنګه چې وړاندې ذکر شوي دي چې قاسم علي خان افریدے یو عالم او صوفي شاعر دے او دا هم ښکاره خبره ده چې طریقت د شریعت تابع دے نو یو صوفي شاعر به خامخا د شریعت د احکامو تابع وي ځکه چې د صوفي د ژوند مقصد صرف او صرف د الله د رضا حصول وي. دغه عکس به د یو صوفي شاعر په کلام کښې ضرور منعکس کېږي. د هغهٔ په شاعرۍ کښې د انسان او انسانیت سره مینه، د آخرت فکر، دین او مذهب، اخلاص، قناعت، صبر و شکر، وعظ و نصیحت، مرسته او ښېګړه، سخاوت،

تقویٰ، طاعت، عبادت، توکل، علم و عمل، یقین او ایمان درس ورکول، د بغض کینې، حسد ، ریاکارۍ، حرص، لالچ، اصراف او ناوړه خبرو حوصله شکني کول د هغهٔ موضوعات دي.[۴]

قاسم علي خان افریدے سني مذهب او حنفي مسلک دے.

هغه وایي چې:

پــــه مـــذهب ربـــتیا ســـردار امـــام اعظـــم
دے سُـــني تـــه قـــول درکـــار امـــام اعظـــم

بـــل شـــافعي درېـــم حنبـــل چهـــارم مالـــک دے
فضـــیلت پـــه هـــر چـــار امـــام اعظـــم

قاســـم علـــي نـــور پـــه واړه مـــذهبونو
مکـــرر مـــذهب اخیـــار امـــام اعظـــم[۵]

د قاسم علي خان افریدي دیوان کښې د قرآن پاک پیغام بې شمېره ځایونو کښې لیدے شي چې د هغه د علم و فضل اندازه ترې په اسانه کېدلے شي.

قرآن کښې الله تعالیٰ فرمایي:

فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ[۶]

دا نایـــان ګـــوري "فـــا اینمـــا تولـــوا"
هـــم "فثمـــه و جهـــه الله" د حـــق آواز[۷]

بل ځائے الله تعالیٰ فرمایي:

وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ[۸]

ترجمه: مونږ دوي سره یو تاسو نه زیات تاسو نهٔ وینئ.

کله چې ستاسو د يو محبوب يا عزيز نه ساه ووځي نو تاسو ورته بې وسه ګورئ. دغه وخت فرښتې او الله تاسو نه زيات هغهٔ ته نزدې وي. که تاسو په خپل اختيار کښې يئ نو بيا يې ولې بچ کولے نهٔ شئ.[۹]

که لــر شـــے پــه حقيقــت بانـــدې آګـــاه
کــــړه عمـــــل "فاينمــــاتولو وجـــه الله"[۱۰]

وي عــــــارف لــــــه حــــــق آګـــــــاه
مـــــــدام ګــــــوري وجـــــــــه الله[۱۱]

دروېشـــــان ګـــــوري "فاينمـــــا تولـــــو"
وي نظـــر پـــه "وجـــه الله" د دروېشـــانو[۱۲]

په سورت "ق" کښې الله تعالی فرمايي:
وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ[۱۳]
ترجمه: او مونږ دهٔ ته د شاه رګ نه زيات نزدې يو.
د شهـ رګ نه مراد هغه رګ دے چې د زړهٔ نه وينه مازغو ته بوځي او د دې په پرېکولو سره انسان مري.
او په سورة الحديد کښې الله فرمائيلي دي:
وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ[۱۴]
قاسم علي خان په خپل شعر کښې داسې وايي:

"نحـــن اقـــرب اليـــه" وايـــي وهـــاب
هــم کنــار وي يــا ر پــه ويښــه هــم پــه خــواب[۱۵]

"نحن اقرب اليه" درته وايي
تهٔ به چېرته چېرته ګرځې روسیاه[16]

قاسم علي يار د تا په ديد قريب دے
شه ناظر "نحن اقرب حبل الوريد" دے[17]

سورة الذاريات کښې الله تعالی فرمايي:
وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ[18]
ترجمه: او ستاسو په نفسونو کښې (علامې دي) آيا تاسو نهٔ وينئ؟

"و فی انفسکم افلا تبصرون"
په وجود کښې کړه نظر په يار نګاه[19]

حقيقت په هر مظهر کښې دے باور کړه
عارفان به يې خبر وي له پټ راز[20]

تماشه د رب رحيم په هر مظهر ده
معرفت له ره د زړهٔ سترګې بينا کړه[21]

هم په دې سورة کښې په پنځوسم آيات کښې ليک دي:
فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ[22]
ترجمه: ورځئ د الله طرفته زهٔ چې يم ستاسو د پاره ښکاره ويروونکے يم.
په آيت کښې د توحيد بيان دے چې الله تعالی طرفته رجوع وکړئ. د الله سره شريک مهٔ جوړوئ او د شېطان د جال نه د ځان بچ کولو کوشش وکړئ او د الله د حکمونو تابعداري کوئ.

کــه انســان یــې مــا ســپوا لــه زړهٔ بــدر کــا
او "ففــــروا الــــی الله تـــــه هوســـــېږه"[۲۳]

په سورة الفتح کښې فرمائي:
مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ [۲۴]
ترجمه: محمد رسول الله او کوم ملګري چې ورسره دي سخت دي د کافرانو د پاره او نرم زړهٔ لرونکي دي په خپل مېنځ کښې.
پـه دې آیت کښـې د حضرت محمـد صلی الله علیـه وسلم او د سر فروشو، جانثارو صحابه کرام رضی الله عنهم د فضیلتونو او منقبتونو بیان د ے چې د دیـن د غلبې د پـاره یې هـره قربـاني کړې ده او د راتلونکي نسلونو د پـاره یـو غوره نموده ده.
قاسم علي خان افرید ے خپل کلام کښې وایي:

"اشــداء علـــی الکفـــار" پــه قـــرآن ګـــوره
پـــــاک الله ویلــــــي ثنـــــا وو د عمــــــر[۲۵]

اګر چې دې آیت کښې ټولو صحابه کرامو تـه اشاره ده خو د شاعر د حضرت عمر(رض) ذکر خصوصیت سره په دې وجه کړے د ے چې د هغهٔ رعب منلے شو ے وو.
په سورة کهف کښې الله تعالی فرمائیلي دي.
فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَٰلِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدًۢا [۲۶]
ترجمه: نو بیا د چا چې امید وي د ملاوېدو د خپل رب سره نو هغه دې کوي څهٔ کار نېک او نهٔ دې شریکوي د خپل رب په بندګۍ کښې بل هیڅوک.
یعنې څوک چې الله نه ویرېږي او دا طمع لري چې الله تعالی سره به یې ملاقات کېږي نو د الله او رسول پـه بیـان کـړے شوي حکمونو دې عمل کوي. نېک کارونه دې کوي نو د الله محبوب بنده به شي.

قاسم علي خان افريدي دې آيت ته داسې اشاره کړې ده:

"ولا يشـــــرک بعبـــــادة ربـــــه احـــــدا"
بـې شـرکت بـه عبـادت کـووم مسـکين يـم[۲۷]

د سورة المؤمن آيات مبارک دے.

لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَ لِلَّهِ ٱلۡوَاحِدِ ٱلۡقَهَّارِ[۲۸]

ترجمه: د چا راج دے په دا ورځ؟ د الله دے چې يو دے او قهر والا دے.

يعنې چې دا آواز وشي نو داسې به هيڅوک نۀ وي چې جواب به ورکړي. الله پاک د هر څۀ حاکم دے او همېشه به وي.

دا حقيقت شاعر داسې بيان کړے دے.

"لمـن الملـک واحـد القهار" نـاره بـه وکـا
هيڅـوک نـۀ وي چـې جـواب بـه کـه سـتېز[۲۹]

په سورة اعراف کښې الله تعالیٰ فرمايي:

فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصۡلَحَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ[۳۰]

ترجمه: هغه چا چې تقوی اختيار کړه او د ځان اصلاح يې وکړه. پس نۀ به هغوي ويره وي او نۀ به هغوي غمژن وي.

چا چې تقویٰ اختيار کړه او د ځان اصلاح يې وکړه نو هغه کامياب شو دا مضمون قاسم علي داسې بيان کړے دے.

"لا خـــــوف علـــــيهم يحزنـــــون" دے
کـه کـوڼ نـۀ يـې غـوږ پـه قـال د حق تعـالیٰ کـړه[۳۱]

سورة انشراح کښې الله تعالیٰ فرمائيلي دي:

أَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ[۳۲]

ترجمه: آيا مونږ ستا سينه نۀ ده سپړدلې.

په دې سورة کښې د فرښتو په ذريعه د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د سينې سپړدلو ذکر د ے. د وحي د سختۍ او بيا د آسانۍ خبره ده او د رب العزت سره د زړهٔ لګولو او طاعت ذکر د ے. قاسم علي خان ورته داسې اشاره کوي.

قاســـم علـــــي بـــــاور وکـــــړه
پـــــه ديـــــوان "الـــم نشـــرح"[۳۳]

د سورة التين آيت کريمه د ے:
أَلَيۡسَ ٱللَّهُ بِأَحۡكَمِ ٱلۡحَٰكِمِينَ[۳۴]
ترجمه: آيا نۀ د ے الله دَ ټولو حاکمانو نه لوئے حاکم.
قاسم علي خان دا حقيقت په دې رنګ کښې بيان کړے د ے:

منـــت بـــار بـــه د هېچـــا د ے کلـــه نـــۀ شـــي
لـــوئے ســـلطان د بادشـــاهان د ے رب زمـــا

حـــق مالـــک د دو جهـــان د ے رب زمـــا
هـــم خښـــتن د لامکـــان د ے رب زمـــا[۳۵]

د سورة البروج آيت کښې دي.
فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ[۳۶]
ترجمه: کوونکے د هغې چې څۀ وغواړي.
قاسم علي وايي:

"فعـــال لمـــا يريـــد" د ے پـــاک الله
هـــر آواز پـــه ســـمع بـــې ســـمع شـــنوا

بل ځائے الله فرمايي:

إِذَآ أَرَادَ شَيْئاً أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ[۳۷]
ترجمه: کله چې اراده وکړي د یو څیز نو و وایي موجود شه نو موجود شي.
شاعر وايي:

په وئیل د "کُن" اشیا واړه موجود کړل
قاسم علي په دا شان دے رب زما[۳۸]

د سورة الاخلاص مفهوم او مطلب قاسم علي خان افريدي ډېر په ښۀ انداز بيان کړے دے.
قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ o ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ o لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ o وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ o [۳۹]
ترجمه: و وایه الله یو دے. الله بې نیازه دے. نۀ ترې څوک پیدا دي، نۀ د چا نه پیدا دے او نۀ د دۀ همسر څوک شته.
کله چې مشرکينو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د الله تعالی د نسب تپوس وکړو نو دا سورة نازل شو.
د الله تعالی سره چا لره شریک ګڼونکو منکرينو د توحيد په دنيا کښې مختلف قسمونه راغلي دي. او سورة اخلاص د هر قسمه مشرکانه خيالاتو نفي وکړه. د مکمل توحيد سبق يې ورکړے دے. په منکرينو کښې د توحيد يوه ډله دا الله تعالی د وجود نه منکره ده. بعضې وجود خو مني خو د وجود د وجوب نه منکر دي. بعضې د دواړو قائل دي. مګر د کمال د صفاتو نه منکر دي. بعضې دا هر څۀ مني خو عبادت کښې غېرالله لره شريکوي. د دې ټولو رد په دې سورة کښې شوے دے.[۴۰]
د دې مفهوم د قاسم علي خان په شعرونو کښې داسې بيان شوے دے.

الله يـــو دے لاشـــريک "ربنـــا"
دے بـې چـون و بـې بـا چـون "امنـا"[۴۱]

دے محتـــــاج د هیچــــا نـــــهٔ دے
"امنــــــــا و صــــــــــدقنا"۴۲

دلربـــا زمـــا هغـــه بـــې پـــلار و مـــور
بـــې زامـــن بـــې لوڼـــو وګڼـــه بـــې خـــور

یګانـــه دے دلربـــا مـــې پـــه دلبـــرو
ځکــه نـهٔ کـړم پـه جهـان بـه یـاري نـور۴۳

مخلوقـــات د مـــور او پـــلار پـــه سـبب دي
بـې سـبب بـې مـور او پـلار دے رب زمـا۴۴

په سورۃ رحمٰن کښې ارشاد دے:

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ۴۵ (

ترجمه: هر څیز چې فنا کېدونکے دے.

څـوک زنـده پـه دا عـالم بـه پـاتې نـهٔ شـي
"کـل مـن علیهـا فـان" دے دسـت آویـز"۴۶

دغسې د قاسم علي خان افریدي کلام کښې بې شمېره ځایونو کښې قرآني آیاتونو ته اشارې شوې دي. د هغهٔ د دیوان نه راخستلے شوي پورته شعرونه په دې خبره دلالت کوي چې هغه په قرآني علومو په ښهٔ توګه پوهېدو او هم د خپلې قرآن فهمۍ په اساس یې خپلو شعرونو ته علمیت او معنویت وربخښلے دے چې په دې سره د هغهٔ د شاعرۍ فکري اړخ تـه ځلا رسېدلې ده. مونږ په ډاډه زړهٔ دا وئیلے شو چې د هغهٔ شاعري د هغهٔ د مذهبي او خصوصاً د قرآني پوهې او په شعر کښې د دې د پکارولو د هُنر غمازي کوي.

## حوالې

[۱] فقیر، فقیرمحمد، د قاسم علی خان افریدی دیوان، تدوین او تحقیق، ایم فل مقاله، علامه اقبال اوپن یونیورستي اسلام آباد، ۲۰۱۲ء، ص ۱۷۰
[۲] خواب نامه قلمي نسخه، اسلامیه کالج لائبرېري
[۳] دیوانِ قاسم علي خان افریدي قلمي، اسلامیه کالج لائبرېري
[۴] فقیر، فقیرمحمد، د قاسم علی خان افریدی دیوان، تدوین او تحقیق، ایم فل مقاله، علامه اقبال اوپن یونیورستي اسلام آباد، ۲۰۱۲ء، ص ۱۱۲
[5] قاسم علي خان افریدي دیوان تدوین و تحقیق فقیرص ۲۵۹
[۶] قرآن مجید، سورة البقرة، آیت ۱۱۵
[7] دیوان، ص ۲۳۵
[۸] قرآن مجید، سورة الواقعه، آیات ۸۵
[۹] عثماني، احمد، شبیر، مولانا، تفسیر شیخ الاسلام، سعودي عرب، شاه فهد پرنټنګ پرېس مدینه، سن ندارد، ص ۷۱۳
[۱۰] دیوان، ص ۲۹۳
[11] دیوان، ص ۳۲۰
[۱۲] دیوان، ص ۲۸۳
[۱۳] قرآن مجید، سورة ق، آیات ۱۲
[۱۴] قرآن مجید، سورة الحدید، آیات ۴
[۱5] دیوان، ص ۱۹۴
[۱۶] دیوان، ص ۲۹۳
[۱7] دیوان، ص ۳۲۱
[18] قرآن مجید، سورة الذاریات، آیات ۲۱
[19] دیوان، ص ۲۹۳
[۲۰] دیوان، ص ۳۳۵
[۲۱] دیوان، ص ۳۰۲
۲۲ قرآن مجید، سورة الذاریات، آیات ۵۰

[۲۳] دیوان، ص ۳۰۵
[۲۴] قرآن میجد ،سورة الفتح، آیات ۲۹
[۲۵] دیوان،ص ۲۲۱
[۲۶] قرآن مجید ، سورة الکهف، آیات ۱۱۰
[۲۷] دیوان، ص ۲۷۲
[۲۸] قرآن مجید ، سورة المومن، آیات ۱۲
[۲۹] دیوان، ص ۲۳۲
[۳۰] قرآن مجید ، سورة الاعراف آیات ۳۵
[۳۱] دیوان، ص ۳۰۲
[۳۲] قرآن مجید ، سورة انشراح، آیات ۱
[۳۳] دیوان، ص ۳۲۱
[۳۴] قرآن مجید ، سورة التین، آیات ۸
[۳۵] دیوان ، ص ۱۲۸
[۳۶] قرآن مجید ، سورة بروج، آیات ۱۲
[۳۷] قرآن مجید ، سورة یٰسن، آیات ۸۲
[۳۸] دیوان ، ص ۱۲۸
[۳۹] قرآن مجید ، سورة اخلاص
[۴۰] محمد شفیع، مفتي، مولانا ، معارف القرآن، پښور ، تاج کتب خانه محله جنګي قصه خواني، سن ندارد ، پاره ۳۰ ، ص ۲۳۰
[۴۱] دیوان ، ص ۱۲۹
[۴۲] دیوان ، ص ۱۷۰
[۴۳] دیوان ، ص ۲۲۷
[۴۴] دیوان ، ص ۱۲۹
۴۵ قرآن مجید ، سورة رحمٰن، آیات ۲۲
[۴۶] دیوان ، ص ۲۳۲